# په مؤمنانو کې تر ټولو د کامل ایمان لرونکي هغه دي چې ښه اخلاق ولري او په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې له خپلو مېرمنو سره ښه وي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: "په مؤمنانو کې تر ټولو د کامل ايمان لرونکي هغه دي چې ښه اخلاق ولري او په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې له خپلو مېرمنو سره ښه وي".
[حسن] [أبو داود، ترمذی او احمد روايت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې د ايمان په لحاظ تر ټولو کامل انسان هغه دی چې ښه اخلاق ولري او دا کار په ورين تندي، نيک کولو، ښو خبرو او له نورو څخه په ضرر لرې کولو سره کيږي. او تر ټولو غوره مؤمن هغه دی چې د خپلو مېرمنو لپاره غوره وي، لکه د هغه مېرمن، لوڼې، خويندې او خپلوانې. ځکه چې هغوی د نورو په پرتله زيات حق لري چې ښه سلوک ورسره وشي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5792